# د خوشال کرکه له خټکو

لیکنه : ضیاءالحق سیند

خوشال خان خټک د شهباز خان زوی د یحیی خان لمسی د ملک اکوړي کړوسی ، چې په ۱۰۲۲ س ل کال په اکوړه خټک کې د دې دنیا ته سترګې پرانستې دي ، څنګه چې د نومړي د نوم له روستاړي څخه هم څرګندېږي ،چې په قوم خټک دی او خټک د پښتنو یوه ستره توریالۍ قبیله ده ، خو خوشال خټک ځای ځای په خپل دېوان کې د خټکو له نامې سره کرکه ښودلې ده ، ما خپله د خوشال خټک دېوان بیا بیا لوستی دی ، نومړی د ټولو پښتنو نه ګیله من ښکاري خو په ځانګړي ډول د خټکو او یوسفزیو نوم بیا بیا په بدو ټکو را اخلي ، هغه ځکه چې یادونه د هغه چا کېږي ، چې هغه یو څوک وي ، خټک له نومړي یو ځای خورا زیات اوسیدل او خورا ځواک خاوندان ول ،خو هغه وخت د لنډې د سیند د غاړې خټک د اکوړه خټک د سرای اوسیدونکي په دوه ډلو وېشل شوي وو ، څه د خوشال تر شا او څه نور هم د مغلو د نوکر د خوشال خټک د زوی بهرام خان تر شا ولاړ وو ، نو خوشال خان د مجبورۍ له امله خټک په بد نوم یادول ، ان تر دې چې د خپل ځان نه یې په دې کرکه په دې راغلې ،چې دی هم خټک دی او په دې اړه وایي:

د خټکــو حقیقت را ته ښــکاره شــو

زړه مې بد له خپله ځانه چې خټک یم

(دېوان، ۵۷۹ مخ)

او بل ځای د خټکو له نوم څخه انکار کوي ، او له ټولو خټکو څخه نا خوښه ښکاري او توبه ګار دی

Ketabton.com

د خټکو نامې هومره زړه خوږ دی

چې تــوبه د همــګي خټک له نامه

(دېوان، ۶۰۳مخ)

د خوشال خان کورنۍ پلار تر پلاره د خټکو خانان او مشران پاتې شوي وو ، خو کله چې خوشال د مغلو خلاف شو ، نو هغه خاني ملکي هر څه ترې پاتې شول ، د افغان په نامه یې توره تر ملا کړه او پښتنه مېړانه او ننګ یې مله وو ، خوشال خان په خپل قوم د هیڅ ډول مرستې سپمی نه و کړی ، نو ځکه ترې ګیله من ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نعمت په قـــدر هيڅ خـــبردار نه دي

نوم ختک به مې خلاص نه وي له انعامه

(دېوان، ۶۰۳مخ)

بل ځای بیا نومورى د ختکو په ليکه کې د پښتنو دوه نور درانه او ستر قومونه (بنګښ او ورکزي) هم ورګډوي او د دې درې واړو په کورونو يو ځای د ماتمونو غوښتنه کوي.

که ختک دی که بنګښ که ورکزی دی

وار په وار يې په کـــور وشه ماتـــمونه

(دېوان،۵۵۵مخ)

بل ځای بیا یوسفزي تر سپيو و بدتر ګڼي، هغه داسې چې يو ځل ختک تر سپو بېکاره ښيي او د ختکو سپي تر یوسفزيو بهتر ګڼي، او وايي:

د ختکـــو سپي بهتـــر تر یوسفـــزیو

که ختک دی هم په خوی تر سپي بېکاره

(دېوان، ۵۵۵مخ)

او په اخره کې وايي :

که ختکو راته شا کـــړه مخ يې تور شه

زه یوازې په تکيه د خدای شیرک یم

(دېوان، ۵۷۹مخ)

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادونه : د پښتنو ټول قومونه په ننګ ، پت ، مينه او ښېرازۍ کې يو له بله کم نه دي او هر يو ځان ځان ته ځانګړی مقام لري ، دا د خوشال خان خټک د خولې خبرې دي ، زما نه دي ، کېدای شي ،چې د نومورې په کمو بدو بد ترې راغلي وي دا د هغه خپل کار دی ، خو زه په خپله ټول قومونه ته په يوه سترګه ګورم، هيله مند يم، چې څوک له ما څخه نا خوښه شوي نه وي.

په درنښت

ستاسو ورور : ضياءالحق سيند

پته: بغلان ولايت ، پلخمري ولسوالۍ د ډنډ غوري زرغونه سيمه

۱۳/ ۱۱/ ۱۳۹۴

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library